مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نجیب منلی ۲۰۱۸/۱۲/۱۸

# که زه کاندید وای
# فرهنګي اقتصاد

په تېرو څلوېښتو کلونو کې فرهنګ د افغانستان د حکومتونو د کار يوه خورا فرعي برخه پاتې شوې ده. په ۱۳۶۰ لسيزه کې فرهنګي چارو ته يو څه توجه وشوه ځکه چې هغه مهال دولتي تبليغاتو ادب او هنر ته ډېره اړتيا درلوده. د ۱۳۷۰ لسيزې په اوږدو کې، که د مجاهدينو د حکومت دور ته وګورو يا د طالبانو واکمنی ته، فرهنګ ته تقريباً د يوې رټل شوې پديدې په سترګه کتل کېدل.

د طالبانو د رژيم تر نسکورېدو وروسته، د افغانستان اسلامي جمهوريت حکومتونو هم فرهنګ ته چندان توجه و نه کړه. په دې دوره کې د خاصو سياسي، اقتصادي او فرهنګي منافعو په چوکاټ کې په افغانستان کې د رسنيو صنعت په انارشيکه توګه وده وکړه خو د سياسي او استخباراتي تمويل په خاطر لا هم په ټولنه کې ريښې نه لري او د رسنيو وده يوه بې پايښته، تېرېدونکې پديده ښکاري. د افغانستان د ملي پراختيا ستراتيژي چې په لوړ قيمت د هغو ماهرينو له خوا جوړه شوه چې د افغانستان له ټولنيزو واقعيتونو سره چندان اشنا نه وو، فرهنګ د لومړيتوبونو حاشيې ته وويست او د يو څو تجملي پروژو او محدود شمېر تاريخي آبدو په بيا رغوني پورې يې محدود کړ. د يوويشتمې پېړۍ په لومړيو دوو لسيزو کې، افغان چارواکو، د هغوی غربي سلاکارانو او تمويلوونکو فرهنګ ته، د نظام د مصرفي برخې په توګه، د افغانستان پر اقتصاد د يو اضافه بار په سترګه کتلي دي.

دا په داسې حال کې ده چې فرهنګي مسايل د افغانستان د امنيت او سياست هغه بنسټيز توکي دي چې بيا رغول او پر پښو درول يې هم په هېواد کې د سولې له پاره يو اساسي شرط دی او هم د هېواد په مادي بيا رغونه کې حساس ځای لري. خو د فرهنګ وده يوازې هغه وخت شوني ده چې د يو مجبوريت په توګه نه، بلکې د ټولنيز ژوند د يوې مهمې برخې په توګه ورته وکتل شي او د ټولنيز ژوند په ټولو ډګرونو کې ورته ځای ورکړ شي.

د نړیوال بانک په وينا فرهنګ له څلورو لارو پر اقتصادي ودې اغيز ښندي:

- فرهنګي ناکارول شوې زېرمې او توليدات د بېوزله ټولنو له پاره فرصتونه پيدا کوي
- د کلي او سيمې په کچه د اقتصادي ودې د لارو چارو خپلول اسانه کوي
- فرهنګي شتمنۍ ساتل کېږي او عايد توليدوي (د توريزم عايد او ښاري وده)
- بشري قوه تقويه کېږي، د بېوزلو خلکو د پياوړي کولو له لارې کارمونده او توليدي وړتيا همهاله لوړېږي.

په معاصره نړۍ کې «فرهنګي اقتصاد» د هېوادونو د لوی اقتصاد مهمه برخه ګڼل کېږي.
فرهنګي اقتصاد (Culture Economy) فرهنګي، هنري، ښکلائيز او مانايیز (Esthetic and semantic) فعاليتونه په تجارتي بنه کاروي.

په نړیواله کچه «فرهنګي اقتصاد» د اکثرو هېوادونو د ملي اقتصاد يو عمده رکن بلل کېږي. په پرمختللو هېوادونو کې فرهنګي اقتصاد د کورني ناخالص توليد پينځه په سلو کې تشکيلوي او تر څلور فيصدو د کار قوه يې په همدې برخه کې بوخته ده.

په پرمخ تلونکو هېوادونو کې هم د فرهنګي اقتصاد ونډه د چټکې پراختيا په حال کې ده. په منځني ختيځ کې دا سکتور شاوخوا ۱۸٪، په افريقا کې ۱۴٪، په سوېلي امريکا کې ۱۲٪ او په اسيا کې ۱۰٪ کلنۍ وده لري.

په افغانستان کې فرهنګ ته توجه نه يوازې د ټولنې د رواني او فکري سلامتيا له پاره خورا بنسټيز ارزښت لري بلکې د فرهنګ له ودې سره اقتصادي وده هم تړلې ده. دا مفکوره چې فرهنګ د ملي بودجې له پاره يوه اضافي بار دی، له افغاني واقعيتونو سره اړخ نه لګوي خو د دې له پاره چې فرهنګ د ملي اقتصاد په يوې پياوړې محرکه قوې بدل شي يو شمېر کوټلي سياسي اقدامات په کار دي.

د فرهنګي اقتصاد يوه په زړه پورې ځانګړتيا دا ده چې، د نورو مصرفي توکيو برعکس، په فرهنګي توليداتو کې عرضه پر تقاضا وړومبی وي، په دې مانا چې مصرفي توکي بازار ته په هماغه کچه وړاندې کېږي چې غوښتنه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

ورته زیاته وي خو په فرهنګي تولیداتو کي هر څومره چي عرضه زیاته وي (ډېر فرهنګي توکي وګړو ته وړاندي شي) هماغومره ورسره تقاضا لوړېږي.

دلته په مختصر ډول د فرهنګي ژوند ځینو اړخونو ته اشاره کېږي چي هم د ټولني فکري سلامتیا ورسره تړلي ده او هم کولای شي له اقتصادي پلوه اغیزمن ثابت شي.

### ۱ – د کتاب سیاست:

د کتاب لوستلو فرهنګ عامول د ټولني د افرادو د سالمي روزني له پاره اساسي شرط دی. دلته مو توجه د کتاب لوستلو هغه فعالیتونو ته ده چي له ښونځي بهر تر سره کېږي. عموماً ښونځي ماشومانو ته لوستل وور زده کوي خو د لوستلو عملي وړتیا – که له ښونځي وروسته څوک کتاب و نه لولي – په تدریج له منځه ځي. «بی سوادي» او «نالوستي توب» سره مترادف مفهومونه نه دي. هغه څوک چي بېخي ښونځي ته نه دی تللی او هېڅکله یي لوستل او لیکل نه دي کړي «بي سواده» بلل کېږي، مګر هغه څوک چي لیک لوست یي په ښونځي کي زده کړی او بیا یي هېر کړی، او هغه څوک چي د دیني تعلیماتو په لړ کي له لیک سره اشنایي لري (له مخي لوستل کولای شي خو مفهوم تري نه شي اخیستای) «نالوستي» ګڼل کېږي. په افغانستان کي، په مټ د یوې عمري ډلي شاوخوا نیمایي وګړي ښوونځي ته د تللو فرصت لري، خو په دغو وګړو کي هم یوه پراخه فیصدي د زده کړو په جریان کي د ښوني له رسمي سیستم وځي او په تدریج سره د لیک لوست وړتیا له لاسه ورکوي.

د کتاب لوستلو فرهنګ او د دې فرهنګ د ودي له پاره ځانګړي شوي امکانات دا شوني کوي چي د ټولني ډېر وګړي سواد ته لار پیدا کړي او بیا د لیکلو او لوستلو وړتیا وساتي. عملاً دا کفایت نه کوي چي په ښونځیو کي شاګردانو ته یوازي تدریسي کتابونه ورکړل شي، د تدریسي کتابونو تر څنګ «مرستیال درسي مواد» هم د روزنیز سیستم یوه نه بېلېدونکي برخه ده. همدا راز، کله چي یو ماشوم له څو کاله ښوونځي وروسته د معارف له سیستم څخه خارجېږي، لازمه ده چي دا ماشوم له ښونځي بهر هم د لوستو موادو ته لاسرسی ولري تر څو زده کړی سواد په عمل کي وساتي. د هېواد د وګړو د فکري ودي او د ټولني د فکري چاپېریال پراختیا هم دې ته اړتیا لري چي ټولنه په پراخه پیمانه فرهنګي تولیداتو او آفاقي مالوماتو ته لاسرسی ولري. فرهنګي تولیداتو او آفاقي مالوماتو ته لاسرسی، په معاصر ټولنه کي تر یو حده د راډیو ګانو او تلویزیونونو له لارې په لیدلو او اورېدلو تر لاسه کېږي، خو د مالوماتو د دوامداره کاروني او تازه ساتلو له پاره لیکلي مواد هم خورا بنستیز نقش لوبوي.

په افغانستان کي کتاب ته د لاسرسي احصاییه نه شته خو دا ادعا به بې ځایه نه وي چي خورا کم افغانان کتاب ته لاسرسی لري.

## د کتاب سیاست باید څو موارد په نظر کي ولري:

### د کتاب عرضه:

- **تعلیمي نظام**: په افغانستان کي د کتاب د چاپ مهمه برخه د معارف له وزارت سره تړلي ده. په ایډیال حالت کي باید د پینځو او پینځلسو کلونو تر منځ د افغانستان ټول ماشومان چي شمېر یي پینځلس میلیونو ټنو ته رسېږي په ښونځي کي شامل شي خو عملاً د تعلیم د عمومیت دي کچي ته رسېدل به څو کاله وخت وغواړي. په راتلونکو پینځو کلونو کي دا اټکل کولای شو چي شاوخوا یوولس میلیونه ماشومان به د هېواد د دتعلیم او تربیي په سیستم کي شامل وي. که په منځني ډول د هر ماشوم له پاره پینځه تعلیمي کتابونه په نظر کي ونیول شي نو د هېواد تعلیمي نظام په منځني ډول پینځه پنځوس ملیونه درسي کتابونو ته اړتیا لري او که د هر کتاب د استهلاک موده په اوسط ډول دوه کاله اټکل شي نو هر کال باید د هېواد د معارف سیستم اته ویشت میلیونه درسي کتابونه تولید کړي.
که وغواړو چي د معارف سیستم مو یو څه معقول شي او یوازي پر ځان و نه څرخي نو د هر ماشوم له پاره کم تر کمه په هر کال کي د دوه مرستیال درسي کتابونو اړتیا ده. د دې کتابونو یو برخه باید مستقیماً د شاګرد په خدمت کي وي او یوه برخه به یي د څو شاګردانو تر منځ په ګډه کارول کېږي. په دې اساس د راتلونکو پینځو کلونو له پاره اټکل کېدای شي چي د معارف د مرستال درسي کتابونو شمېر به هم هر کال د شلو میلیونو توکو په حدودو کي وي.
- **عام لوستونکي**: د تعلیمي نظام له چوکاټ څخه بهر که د افغانستان د لوستو کسانو شمېر د لویانو د دېرش سلني په حدودو کي اټکل شي او داسي وانګېرل شي چي هر یو په کال کي یو کتاب ولولي (نړیوال اوسط تر دې ډېر لوړ دی) نو د افغانستان د عامو لوستونکو اړتیا هم هر کال شاوخوا شپږملیونه توکه ارزول کېدای شي.

### د کتاب چاپ:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولـئ

په افغانستان کې د چاپ ورتیا په هېواد کې د اړتیا وړ چاپي موادو يوه کوچنۍ سلنه تشکيلوي. په دې برخه کې عمده خنډونه د بازار کوچنيوالی او د حکومت د تشویقي سیاستونو نشتوالی دی. د وروستیو کلونو د پام وړ پرمختګ سره سره، اټکل کېږي چې په هېواد کې دننه هر کال تر دوو زرو عنوانو کم کتابونه چاپيږي او هغه چې چاپيږي هم نو تیراژ يې تر زرو ټوکو کم دی، ياني کورني توليدات د اټکل له مخې د هېواد د اړتيا وړ چاپي موادو په سلو کې لس هم نه پوره کوي.
بهرنيو هېوادونو کې د افغانستان د کتابونو چاپ يوه ستره ستونزه ده چې عاجل حل غواړي.
دا سکتور، که سم په کار ولوېږي په زرګونو کسانو له پاره مستقيم او غير مستقيم کاري فرصتونه ايجادولای شي.

## د کتاب واردات:

که څه هم وارداتي کتابونه د افغانستان د کتاب د بازار عمده برخه تشکيلوي خو بيا هم د هېواد اړتياوو ته کافي ځواب نه شي ويلای. له يو لوري هغه هېوادونه چې افغانستان ته کتاب صادروي تقريباً په انحصاري حالت کې دي. زموږ د کتاب د بازار کم له کمه په دريو کې څلور برخې ايراني توليدات دي او پاته يوه برخه يې تقريباً ټوله پاکستاني توليدات تشکيلوي.
د نړۍ د نورو هېوادنو توليدات په ندرت سره د افغانستان بازارونو ته لار مومي.
له بده مرغه افغانستان د بيا چاپ په برخه کې چندان حضور نه لري، يوازې محدود شمېر ايراني کتابونه په غير قانوني ډول بيا بيا په کور دننه چاپيږي.

## د عامه کتابتونونو شبکه:

کتاب ته د لاسرسي يوه مهمه وسيله د عامه کتابتونونو شتون دی. اوس مهال د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په تشکيل کې يوازې ۹۶ عامه کتابتونونه شته. د هېواد ټول پوهنتونونه او يو شمېر لېسې هم خپل کتابتونونه لري خو د ټولو کتابتونو مجموعه تر څو سوو کتابتونو نه اوړي چې مجموعي ظرفيت به يې هم تر يو مليون ټوکو کم وي.

## د کتابپلورونکو شبکه:

د افغانستان شرايطو ته په کتو د کتاب بازار که څه هم تر حد ډېر محدود دی خو د تجارتي موثريت له اړخه په ګټورو سکتورونو کې شمېرل کېدای شي. له بده مرغه د هېواد کتاب پلورونکي په مجموع کې کتاب ته هم د نورو مصرفي توکو په سترګه ګوري، د بازار د ګډې پراختيا او همکارۍ روحيه په کې نه شته.
دا بازار هم د زرګونو کاري فرصتونو د پيدا کولو ورتيا لري.

## د کتاب توليد:

د افغان ليکوالو اثار چې د افغان ناشرانو له خوا په کور دننه، يا په ګاونډيو هېوادونو کې، چاپيږي خورا محدود دي.
د افغانستان د کتاب د توليد په اړه تر دې دمه هېڅ کومه د باور وړ احصائيه نه شته. د اټکل له مخې (چې دا اټکل هم د يو شمېر خپرندويانو پر شفاهي ادعاوو ولاړ دی) افغانستان هر کال د زرو او نيم زرو عنوانو تر منځ بېلابېل کتابونه چاپوي چې محموعي تيراژ يې شايد د دوه مليونو ټوکو په حدودو کې وي.
دا بازار په خورا کم وخت کې د لس چنده پراختيا ظرفيت لري
پورته مواردو ته په کتو د کتاب يو مخکښ، واقعبين سياست به لاندې مشخصات ولري:

## عامه کتابتونونه:

کتاب ته د لاسرسي او د کتاب لوستلو د فرهنګ د ودې له پاره لومړی ضروري قدم کتابونو ته د وګړو د لاسرسي د امکاناتو ايجادول دی. دلته د بازار د فعالولو په خاطر په کار ده چې حکومت ډېر ژر، په کمه موده کې يو لړ پراخه او چټک اقدامات وکړي:

- په يو کال کې د ټولو ولسواليو په مرکزونو کې د عامه کتابتونونو ايجادول.

د دې کتابتونو د ځای پر ځای کولو له پاره په لومړي سر کې د ولسواليو له شته تعميرونو څخه استفاده کېږي. هر نوی کتابتون بايد کم له کمه دوه زره ټوکه کتابونه ولري چې په سلو کې شپېته به يې د افغانستان توليدات وي. هر کتابتون يو مسلکي کتابدار، يو مامور او يو ملازم ته اړتيا لري. د يادونې وړ ده چې اوس په هېواد کې يوازې د لغمان پوهنتون مسلکي کتابداران روزي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په بل مفهوم، په لومړي کال کې د عامه کتابتونونو په چوکاټ کې شاوخوا دولس سوه تنه په کار گومارل کېږي او د افغانستان د کتابپلورنې بازار ته د اته سوه زرو نوو کتابونو تقاضا وړاندې کېږي. د تقاضا دومره چټکه پراختیا په خپله د کتابپلورنې بازار گرموي او غالباً چې په دې سکتور کې به هم د څو سوو تنو د استخدام زمینه برابره شي.

- په یو کال کې په ټولو هغو لیسو کې چې کتابتون نه لري، یا یې د کتابتون د کتابونو شمېر کم وي، د کتابتونوونو جوړول. عموماً د پوهنې وزارت په تشکیلاتو کې کتابدار په نظر کې نیول شوی دی او د لیسو په تعمیرونو کې د کتابتون له پاره ځای هم شته. د هېواد د شاوخوا څلور زره لیسو د کتابتون له پاره د کتابونو رانیول به په لومړي کال کې د کتاب بازار ته د نیږدې دوه ملیونو ټوکو په ارزښت کاروبار زمینه مساعده کړي چې دا رقم د څو زره کاري فرصتونو معادل دی.
- همدا راز د هېواد وسله وال پوځ هم باید کتاب ته د لاسرسي له خدماتو مستفید شي. په ټولو قرارگاوو کې د یو مجهز کتابتون جوړول او په جبهو کې بوختو سرتېرو ته د لوست د موادو رسولو له پاره د سیارو کتابتونو جوړول یو اړین گام دی.
- د عامه کتابتونو د شبکې پراخول او تقویه

په ورپسې کلونو کې به هر کال د استوگنو شمېر ته په کتو، په تدریج په لویو، منځنیو او کوچنیو ښارونو کې کتابتونونه جوړېږي او تجهیزېږي. په ورپسې کلونو کې به دا هڅه د لس زرو تنو له پاره یو کتابتون پورې رسول کېږي. همدا راز د ښوونځیو په کتابتونو نو کې د کمیت او کیفیت لوړېدل به د حکومت دوامداره هڅه وي.

لرې پرتو سیمو ته د کتاب د لاسرسي د خدماتو د پراختیا له پاره په کار ده چې په ټول هېواد کې شاوخوا ۵۰۰ گرځنده کتابتونونه هم جوړ شي.

د عامه کتابتونو د ملي برنامې په چوکاټ کې به د پینځو کلونو په ترڅ کې د هېواد د هرو شل زرو اوسېدونکو له پاره د یو کتابتون شتون تامینېږي. د کتابتونونو شبکه به په مستقیم ډول لس زره تنو ته د کار زمینه مساعده کړي. د کتاب بازار ته د دې کچې منظمې تقاضا راتلل به په غیر مستقیم ډول د شاوخوا لس زرو نورو کسانو له پاره د کار فرصتونه ایجاد کړي (کتابپلورونکي، مطبعې، د کتاب تجارت...)

## د کتاب د بازار وده:

د دولتي او نادولتي ابتکاراتو په مټ د کتاب د ترویج د خدماتو پراخول (ننداریونونه، جوایز، مسابقات،...) او د نادولتي مدني ټولنو له لارې د کتاب عامول. دا فعالیتونه هم په تقریبي ډول تر پینځه زرو کاري فرصتونه ایجادولای شي

## د کتاب د بازار قانونمند کول:

د رسنیو د قانون د دقیق پلي کولو، د کاپي رایټ د قانون د اغیزمن تطبیق او د کتاب دنړیوالي پرلپسې شمېرې د تعمیم له پاره د لازمو لایحو، مقرراتو او تقنیني اسنادو نافذول، د تطبیق د ادارو تشکیلول، له بهرنیو دولتونو او خصوصي خپرندویانو سره، د افغانستان علیا منافعو ته په کتو، د کاپي رایټ، ریپرنټ او پټنټ د پروتوکونو لاسلیکول، د کتاب له صنعت سره د تړلو فعالیتونو د مالیاتي نظام عیارول، د کتاب د کورنۍ او نړۍ وال تجارت له پاره د خاصو مقرراتو نافذول، د کتاب په صنعت کې د سالم رقابت ایجادول او د کتاب د تولید له پاره د لازمو تشویقي برنامو پلي کول به د حکومت په لومړیتوبونو کې وي.

د کتاب لوستلو د فرهنگ د ودې او د کتاب د صنعت د پراختیا له پاره یو اغیزمن سیاست، د فرهنگي او فکري سلامتیا په برخه کې د گټورو پالیسیو تر څنگ په افغانستان کې د شاوخوا سل زرو تنو له پاره د کاروبار زمینه برابرولای شي. د دې کاري فرصتونو د ایجاد ټولنیز لگښت (د دولت پانگونه او د خصوصي تشبثونو هڅې) تر بل هر سکتور ټیټ دی.

## ۲ – د هنري تولیداتو د ملاتړ سیاست:

هنري تولیدات هم د سالمې تفریح، هم د ولسي خبر رسونې، هم د فکري پراختیا او هم د راتلونکو پرمختگونو له پاره د مناسبې فکري فضا په رامنځ ته کولو کې خورا بنیادي نقش لوبوي. له بل لوري د اوسنې ژوند یو خورا مهم مصرفي توکی هنري تولیدات دي چې د فرهنگي اقتصاد د ودې محرکه قوه ده.

د دې له پاره چې فرهنگي تولیدات و او فرهنگي فعالیتونه په یو مهم اقتصادي سکتور بدل شي، بیا هم لازمه ده چې حکومت په دې برخه کې دقیق، پرمختلونکی، فعال او قاطع سیاست ولري.

## د بازار تنظیم:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د موسیقي، انځوریزو هنرونو، تیاتر، سینما، تلویزیوني او راډیویي خپرونو او نورو هنري تولیداتو د راکړې ورکړې بازار لا په افغانستان کې شاړ پروت دی. یو څو تنه د دې بازار له بې رویې تعاملاتو ګټه اخلي، هم د تولنې فکري بنسټونه خرابوي او هم په ټولنه کې د تخلیق او نوو ایجاداتو مخه ډب کوي. دا بازار تنظیمول غواړي.

- د کاپي رایټ او ذهني ملکیتونو اړوند اصول او قوانین باید په بشپړه توګه او په خورا جدیت پلي شي. د بازار څار، د ذهني ملکیتونو د ساتنې په موخه د مسلکي قاضیانو او څارنوالانو شتون او حتی د لویې څارنوالۍ په چوکاټ کې د ذهني ملکیتونو د یوې اختصاصي څانګې جوړول باید یو له لومړنیو ګامونو څخه وي.
- د رسنیو شمېر او وسعت باید د افغانستان فرهنګي بازار ته په کتو له سره تعریف شي.

په افغانستان کې د تلویزیونونو، راډیوګانو او چاپي رسنیو شمې په مصنوعي ډول تر حد ډېر لوړ دی. د افغانستان اقتصادي بازار د دومره رسنیو شتون نه شي تمویلولای. اوس هم چې کومې رسنۍ، په منظم یا نیمه منظم ډول، فعالیت کوي ډېری یې یا د مستقیماً د بهرنیو دولتي (غالباً استخباراتي) شبکو له خوا تمویلیږي او یا له سیاسي ګوندونو سره تړلې دي چې هغه هم په دوهم قدم کې له بهرنیو منافعو څخه اغیزمن دي. په افغانستان کې فعالې رسنۍ باید د تمویل رڼې سرچینې ولري نو څکه خو په کار ده چې بازار په علمي او منطقي ډول تنظیم شي.
د ډیجیټل خپرونو له برکته اوس د رسنیو د تنوع او همغږۍ متضاده چاره په ښه توګه تنظمیېدلای شي.
رسنۍ باید د هنري تولیداتو د ودې په برخه کې لازم نقش ولوبوي.

- عمومي تلویزیونونه چې د پوښښ ساحه یې افغانستان شموله ده باید په تدریج سره دا وړتیا پیدا کړي چې خپل د هنري اثارو د خپرولو نیمایي ضرورت په کورنیو تولیداتو پوره کړي. په دې کې به یوه برخه د هرې رسنۍ خپل تولید وي او یوه برخه به یې د هېواد د هنري تولیداتو په مستقل بازار کې چمتو کیږي.

کم له کمه هر عمومي تلویزیون په کال کې دوه زره ساعته فیکشن خپروي. په دې حجم کې باید هره رسنۍ په خپلو داخلي امکاناتو تر پینځه سوه ساعتونو پورې تولید ولري او تر څنګ یې د بهرنیو تولیداتو پر خپرولو د وضع شوي حق النشر له لارې په کال کې د سلو ساعتونو اندول تولیدات تمویل کړي.

- د اعلاناتو بازار هم دوه برخې لري. یوه یې د خپرولو برخه ده او یوه یې د اعلاناتو د جوړولو هنري او تخنیکي چاره ده. په افغانستان کې خپرېدونکي اعلانات باید ۹۰ په سلو کې په کور دننه، د پېژندل شوو سټوډیو ګانو له لارې تولید شي. د اعلاناتو تولید باید د کاروبارونو یو منل شوی او تعریف شوی فعالیت وي.
- له بهره په واردېدونکو فرهنګي تولیداتو او د فرهنګ په برخه کې د کارېدونکو صنعتي توکیو پر وارداتو باید د انتفاعي مالیې تر څنګ، یوه فرهنګي مالیه هم وضع شي چې په هېواد کې د فرهنګي تولیداتو د ودې له پاره وکارول شي.

- د افغانستان د هنري تولیداتو له پاره باید په نړیوال بازار کې مناسب ځای وموندل شي. د بازار موندنې دا فعالیتونه (په مسابقاتو کې ګډون، په کور دننه او بهرنیو هېوادونو کې د افغاني تولیداتو فستیوالونه، په نړیوالو فستیوالونو کې ونډه اخیستل، نړۍ والو ته د افغاني فرهنګ ورپېژندل،...) هغه چارې دي چې حکومت یې باید د خصوصي سکتور په مرسته پر مخ یوسي.
- په هېواد کې دننه فرهنګي تولیداتو ته د لاسرسي اسانول هم د حکومت وظیفه ده چې د خصوصي سکتور په مټ یې سر ته رسولای شي. په لومړي سر کې په هر ولایتي مرکز کې د سلو زرو اوسېدونکو له پاره د یوې سینما او یو تیاتر شتون یوه عامه اړتیا ده چې د مختلطي دولتي-خصوصي پانګونې (PPP) له لارې پوره کېدای شي.
- د هنري او فرهنګي تولیداتو د عرضې او ننداري له پاره د ننداړتونونو جوړول.

## د هنرمندانو ملاتړ

د هنر د ودې له پاره لازمه ده چې هنرمندان د ژوند مناسب شرایط ولري. د هنر د ساحې د ټولو کارمندانو له پاره د یو ابرومند ژوند د شرایطو برابرول د حکومت وظیفه ده. ګله چې فرهنګي اقتصاد لازمه پراختیا و مومي نو د سکتور د کارکوونکو د معیشت ټول اړخونه په کې خپلې حللاري پیدا کولای شي. تر هغو چې فرهنګي اقتصاد په پښو دریږي، حکومت باید د بسپنو د راټولولو، د نړیوالو مرستو د جلبولو او په کورني بازار کې د مناسبو مالیاتو په وضع کولو د فرهنګي کارکوونکو د معیشت له پاره اقل شرایط وټاکي او تمویل یې کړي.

## د فرهنګي تولیداتو د تمویل له پاره د پور او تعاوني بیمو سهولتونه:

د لازمو قوانینو او مقرراتو د وضع کولو له لارې باید د فرهنګي تولید له پاره د تعاوني بیمې سیستم ته وده ورکړل شي. همدارنګه باید خصوصي بانکونه و هڅول شي چې د فرهنګي تولیداتو په تمویل کې خپل نقش ولوبوي. د دې له پاره په کار ده چې حکومت وکړای شي، د ملت له پاره د ګټورو هنري پروژو د تطبیق د تمویل په خاطر هنرمندان د بانکي اداراتو پر وړاندې تضمین کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د هنرونو د تولید ډګر کولای شي چې په پینځو کلونو کې شاوخوا سل زره کاري فرصتونه رامنځ ته کړي یا د کار شته، خو نه لیدل کېدونکی، بازار قانومند کړي.

## ۳– د فرهنګي شتمنیو مدیریت او د فرهنګي تنوع پالل:

افغانستان د فرهنګي شتمنیو له درکه خورا غني هېواد دی. دا شتمنی له یوې خوا په علمي بنه پېژندل غواړي او له بلې خوا په عملي توګه پالل، ساتل او پیاوړي کول غواړي.

### د ملموسو فرهنګي شتمنیو مدیریت او پالل:

په افغانستان کې په زرګونو تاریخي آبدې، لرغوني ساحې او فرهنګي ځایونه شته چې که د ساتنې چارې یې په قوت تر سره شي، توریستي کشش او د ځوان نسل د تربیې د اړتیاوو پوره کول به دا شتمنی په یوې مهمې اقتصادي سرچینې بدلې کړي.
د تاریخي آبدو رغول او ساتل او د لرغونو ساحو پېژندا او خوندي کول د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت وظیفه ده. خو د دې تر څنګ، خلکو ته د دغو ارزښتمنو شتمنیو ورپېژندل او د دې پېژندلو په ترڅ کې د هېواد وګړو ته د ملي افتخاراتو او ارزښتونو د خپلولو زمینه مساعدول، کېدای شي په لړ زحمت د فرهنګي اقتصاد یوه مهمه برخه شي.
د نورو شتمنیو تر څنګ د هېواد په هر ولایت کې باید یو د پام وړ انتوګرافیک موزیم ایجاد شي چې هم به د توکیو د راټولولو او پېژندلو وظیفه لري او هم به یې ولسونو ته د ورپېژندلو چاره پر مخ بیایي.
دولت به په نېږدې راتلونکې کې دا وړتیا و نه لري چې د فرهنګي شتمنیو اقتصادي مدیریت په خپله پر غاړه واخلي خو په سلګونو داسې ارزښتمن فرهنګي میراثونه شته چې په خورا لږه پانګونه په یوه ښه عایداتي سرچینه بدلېدای شي. دا کار باید د دولتي او خصوصي سکتور د همکاریو (PPP) په چوکاټ کې تر سره شي. له دې لارې په لږ وخت کې په سلګونو کاري فرصتونه را منځ ته کېدای شي.

### د ناملموسو فرهنګي شتمنیو پېژندل او پالل:

د افغانستان د سیمه ییزو پوهنتونونو په مرسته باید د هېواد د وګړو نا ملموسې فرهنګي شتمنۍ ثبت شي، و څېړل شي او هېواد والو او نړیوالو ته یې د ورپېژندلو له پاره لازم میکانیزمونه (نندارتونونه، فستیوالونه، کنفرانسونه، کنسترتونه،...) را منځ ته شي.
د ناملموسو فرهنګي شتمنیو د راټولو مستقیمه پایله به دا وي چې موږ به په پراخه پیمانه، د لوړ کیفیت درلودونکي فرهنګي مواد خپلو رسنیو ته عرضه کړای شو.

## ۳– تفریحي پارکونه او توریزم:

د افغانستان طبیعي ښکلاوې او بډایه فرهنګ د توریستي فعالیتونو له پاره طلایي زمینې لري خو د هېواد امنیتي حالت لا تر اوسه د دې امکاناتو د سمې کارونې له پاره مساعد نه دي. له دې سره، سره، د کورني توریزم په برخه کې په ډېره کمه موده کې، ډېر څه کېدای شي چې هم ورسره د افغانستان اقتصاد وغوړېږي او هم د راتلونکې له پاره د توریستي زېربناوو لومړني بنسټونه ورغول شي.
د دووه کالو په ترڅ کې د هېواد په هر ولایت کې یو یا دوه داسې طبیعي پارکونه جوړېدای شي چې په مستقیم ډول د پینځه سوو او زرو تنو ترمنځ وګړي په کار واچوي او ورسره په کافي اندازه اقتصادي تحرک رامنځ ته کړي چې تر زرو پورې نامستقیم کاري فرصتونه ایجاد کړي. د دې پروژو د تطبیق له پاره د عامه او خصوصي سکتور د همکارۍ (PPP) په چوکاټ کې د پانګې پیدا کول ډېر ستونزمن نه بریښي. د مستقیم اقتصادي اغیز تر څنګ، کېدای شي چې د تفریحي پارکونو صنعت یوه برخه هغه پانګه هم رسمي اقتصاد ته راولي چې اوس راکده په کورونو کې پرته ده.

فرهنګي اقتصاد هغه اقتصادي ډګر دی، چې د یو مخکښ، ابتکاري سیاست په درلودلو، په خورا کمه پانګونه په څو کلونو کې د افغانستان د فرهنګ د ودې تر منځ په هېواد کې د اقتصادي تشبثونو ودې ته هم زمینه مساعدولای شي.
نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ